ليکونکی : مسعود ودان (Masud Wadan).

منبع او دخپريدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «2019-02-09» .

ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .

---

# د جګړي وروسته جګړه : آيا دامريکی متحده ايالات دافغانستان له وتلو څخه وروسته په يو بل ځاي کي دنوی جګړی درامينځته کيد و په خا طر به يرغل ونکړی ؟

**war after war : will US „pull out„ of Afghanistan to strike a new war elsewhere**




په کا ل(2003) کی دافغانستان داشغا ل څخه وروسته او يا پس له هغه چی دامريکی د متحده ايالاتو نظا می قوتونه پرا فغا نستا ن با ندي بريد وکړ، دامريکی تر واک لاندی نظا می قوتونه پرعراق با ندي د خپل بريد په ترخ کی په هغه هيواد کي شخړی او کشمکش ته لمن ووهل اود بين المللی نا ظرانو پا م له ا فغا نستا ن څخه عراق خواته واړول چی دا پخپله ددی موجب وګرځيد چی متحده ايالات دبحران درشل ته ورسوی .

دوهم ځل کله چي دسوريي جګړه په کا ل(2011) کی پیل شو ، امریکی خپل پاملرنه له افغانستان څخه کمه کړ .

په کال (2014) کی کله چی دسوريي جګړه ډير توده اوګرمه شو ،امریکی مخکی له هغه داسی نیت درلود چي خپل جنګی قوتونه له افغانستان څخه سوريي ته ولیږي.

په معمولی بڼی سره کله چي دامریکي متحده ایالات پخپل ستراتیژی اوپا لیسی کی د بد لون اعلام وکړی نوموړ ته څرګند شو چی د امریکی د ستراتیژی تغیر داسی تعبیر وکړو اوهغه داچي امریکی غواړی چی خپل نظا می ستراتیژی په یو بل ځای کی پلی کړي .

متحده ایالات څومیا شتی مخکی اعلام وکړ چی هغه هیواد غواړی چی له ا فغا نستا ن اوله سوريي څخه خپل نظا می قوتونه با سی ، اما اوس معلومه شو چي امریکي غواړي دخپل جنګی ما شین منګولی یا چرخه په ونزویلا کی ښخ اوپه کا رواچوی یعنی غواړی چي په ونزویلا کی شخړی اودخلکو ترمینځ اختلافا تو ته لمن ووهي .

دامریکی دمتحده ایالاتو د ملی امنیت د مشا ور**جان بولټون** هغه ابلتی او له موضوع څخه د با ندی خبری چی د سپینی ما نی د یو کمیټی په غونډه کی د یوزیر پا نی پرمخ راکا ږلی وه دنړی خلک یی هک اوپک کړل. دغه زیر بخن سړی خپل وینا د یو زیر رنګ کا غذ پر مخ داسی لیکی وه : ا فغا نستا ن د یولږ خبرواترو څخه وروسته ددی هرکلی وکړ چی دا فغا نستا ن دجګړی د ختمید وڅخه وروسته (5000) سرتیری داوضاعوو د کنترول دپا ره کولمبیا ته لیږل کیږي – کوم چی دا یو بی با ور امنیتی نقضیه دی چی آیا هغه یعنی **جان بولټون** دا خبره په عمدی بڼی سره یا ده کړی اویا څنګه ؟ په هر صورت دا پخپله یو ډ یر شد ید پوښلی ګواښ دی کوم چی هرڅوک پوهیږی چی د ونزویالا د پا ره ددی ګواښ د زمینی رابرابرول دي اوداپخپله غلطه نه دی کوم چی ممکن دافغا نستا ن د جګړی په ختمیدو سره دامریکی سرتیری به دهغه هیواد د سرتیرو سره په جنوبی امریکا یوځای شي **دغه مقا له دنړیوال د عدالت د ا تحا دی پوا سطه سره دجنوری دمیاشتي په (23) کا ل (2019) کی لیکل شوی او دونزویلا د تحلیلی کمیټی له خوا په نشر رسید لی دي**

آیا تا سو په دې وروستیوکي د شما لي کوريا سره د متحده ایالاتو د جګړي په اړه نوي څه اوريد لي يا ست؟ نه ،ځکه چي مونږ غوښتل چي **کیم جینګ** - متهم کړو هغه وخت چي متحده ایالات پراختلافا تو با ندی برغولی ايښوده .

دامریکی متحده ایالات د شما لی کوريا پر ضد پخپل له ډیرحده زیات تبلیغا تو سره دنړی زیات بی طرف خلک تردی ځای پوری رسولی چی که چیری امریکا په احتما لی بڼی سره پر شما لی کوريا با ند ي برید هم وکړی دغه خلک به هیڅ غبرګون ونه ښیی له بلی خوا څخه شما لی او جنوبی کوریا دخپل منځ اړیکو په نیولو سره ، واشنګټن ته سرخوږی راپیداکړی ترهغه ځایه پوری چی حتی واشنګټن دشما لی اودجنوبی کوريا دمنځ مناسباتو دبرقراری له امله اوس په خوب کي ډاریږی ، اما سره له هغه بیاهم دواړه

کوریا دخپل نژدی اړیکو دبرقراولو دپاره زیات ګامونه پورته کړي دي اما داچی ولی واشنګتن په دی اړین چپه خوله دی او هغه ته په ډیر بی پروایی سره ګوری نو خبره ممکن دا اووسی چی امریکا غواړی چي په جنوبی کوریا کی دخپل دفاع دلوړی ارتفاع راکټونه (Terminal High Altitude Area Defense ‘THAAD) ځای پرځای کړی اود شما لی کوریا سره د جګړی ټول خبری دهمدی راکټونو تر سیوری لاندی پوښښ ورکړي.

لکه څنګه چی دامریکی اود شما لی کوریا داختلافاتو اودشخړو تنور په سړیدو راغی نو امریکا وروسته له هغه دایران داتومی پروګرام دپراختیا اود ودی دمخنیوی د پاره پرایران باندی دنوی بندیزونو پریکړه وکړ-دایران اسلامی رژیم پرخپل باندي د اقتصادی بندیزونودلیری کولو لپاره هڅه وکړچی دخپل بالیستیکی توغندیو پروګرام ته وده ورکړی نو سربیره پرهغه با ندی ایران ته د نیکمرغی یوه بله کړکی را خلاصه شو اوهغه داچي ددغه بند یزونو اغیزی دامریکی د شد ید ګواښونو سره سره ، عراق ، چین ، روسیه ، ونزویلا اوهند دایران سره په راکړی او ورکړی کی په قسمی بني سره کمرنګه کړل .
د امریکی د متحده ایالاتود اقتصادی تعزیراتو رژیم په ځینو برخو کی دایران په مقا بل کی د سعودی عربستا ن له هغه بندیزونو څخه ملاتړ وکړ چی سعودی عرب په دوامداره بڼی سره د نفت د تولید په اړه په یولړ اقداما توباندي لاس پوری کړي دی .



دسعودی عربستان د تیلووزیرد **جما ل قا شقچی د قتل** دخیرنی اویا د تحقیقا تو په اړه پخپل یو پرا نیستي وینا کی وویل چی ریا ض دتیلود تولید په اندازه کی د کمښت اجا زه له **دونا لد ترامپ** څخه نه دی غوښتلی ،یعنی داچي دا زمونږ.خپله پریکړه دی چی د تیلو تولید کم اویا زیا ت کړو ،نو دغه دعربستان د تیلو دوزیردغه بیا نیه دهغو خلکو دسترګو دوازولو او دراخلاصه ولو لپا ره وه چی لاتراوسه په دی با وردی چی د قا شقچی قتل د محمد بن سلما ن کړنه وه نه یو نما یش .لکه چي ټولو په دی پوره پوهیږی اوهغه داچي ډیر نا می اومشهور څیری تر اوسه پوری د نظا می جنګونو په میدان کی په د ډیپلماتیک بڼی سره ترور شوی دی اما هیڅ یو څوک لکه د **جما ل قا شقچی** په اندول دومره دلوړ وزن څیښتن نه وه .

## په افغانستان کې د زورواکا نو يا د قدرت دخاوندانو ترمينځ اختلاف : چين دواخان په ستراتيژيک دهليز کې دخپل پوځی حضور په چمتو والی کي.

تير کال د امريکی متحده ايالات د ټولو بحرانونو په مينځ کې يو تجارتی جنګ چين ته د سزاورکولو په مقصد کوم چې دی ډول جنګ ته د تجارتی نا مناسب غيرعادلانه روش نوم ورکړ شوی پيل کړ. د چين با لمثل او ورته حرکت دا مريکی د متحده ايالاتو دصا دراتی تعرفي په وړاندی د دی موجب وشو چي د هغی دواړو هيوادونو(چين او امريکا) تر مينځ لمړنی پراخه اقتصادی جنګ رامينځته شی کوم چې دهمدی اقتصادی جنګ په رڼا کی داروپا داتحادی ځنی هيوادونه زيات ګټی تر لاسه کړ اويا داچې اروپايي هيوادونو ته د ډير ګټی د تر لاسه کولو چانس رابرابر کړ، مګر دچين اودامريکي زيات شرکتونه ددی تجارتی جګړی څخه تاوان وليد يا داچی دخپل نقص اودتا وان څپې يې وزغمل ، نو ددی تذکراتو په نظر کی نيولو سره داسی ويلی شو چي امريکا به دچين سره دغه سوداګری جګړه تر هغه وخته پوري سا تي چې دجګړی ارتيا وليدل شي تر هغه چی دجګړی مخه بل خوا ته کړي .

ونزويلا په نړی کی دتيلو تر ټولو دلوی زيرمی په لرلو سره اوس دامريکی مخه هغه خواته شوی يا داچی امريکی غواړی چی ونزويلاپخپل ليکه کی را داخل کړي ، سربيره دمتحده ايالاتو اود ونزويلا داجندا په پام کي نيولو سره دا پخپله يو کلک اويو ناڅا پی ضربه (ګذار) دی کوم چی امريکا ددی ضربی دواردولو دپاره دهغه تخم (زيري) څو کاله د مخه کرلی وه نو دهمدی اصل په نظر کی نيولو سره اوس هغه وخت را رسيدلی چی امريکا د ونزويلا پر ضد دهغه هيواد دمخالفينو څخه ملا تړ وکړی چی دسعودی عربستان دتيلو دتوليد دکمښت څخه مخنيوی وکړي .

د بلی خوا څخه له حالاتو څخه دا سی را معلوميږی چي امريکا د ونزويلا د پيښی د رامينځته کيد و څخه وروسته لکه همغسی چی امريکا مخکی اعلا ن کړی وه چې خپل سرتيری له افغانستا ن اوله سوريی څخه را با سی يا د هغو په شمير کی کموالی راولی غير ممکن په نظر نه راځی له دی نه چی امريکا ا وس په افغا نستان کي ديوی نوی حکومت په را مينځته کيد و کی خپل هسی جا ری کړی چی په دی هيواد کی دبنيا دګرو سيا ستوالو يعنی د مجاهيد ينو ، تکنو کرا تا نو اونورو کوم چی له کلونو کلونو راهيسی امريکی ته وفادار پا تي شوی دی حکومت را جوړ کړی .

له بلی خوا څخه مسکو په تير اونی کي دافغانستان دسولی دخبرواترو تر سرليک لاندی د يوی غونډی کوربه توب وکړاو هغه هم په دی مقصد که چيری وشی کړلی چی دافغانستان دروانی کشالی دپاره يو سوله ايز لاری پيداکړی نو دهمدی اصل په نظر کی نيولو سره کم تر کم (40) نفر دنفوذ خاوندان دغی نا ستی ته رابللي وه .

که څه هم مسکو په يو خبری نا سته کی د ا سی څرګند کړ چی مسکو د دی غونډی سازما ندهی نه دی کړی ملګر د نظر خا وندان بيا په دی با ور دی چی د داسی يو

لوی غونډی کوره توب کول اویا دهغه دا پیرول بی د کرملین دهڅو او اند څخه نا شونی دي .

د مسکو د سولې خبرو اترو ګډون کوونکو پخوانی جنګ سالارانو، چې د« 1980 » لسیزو په اوږدو کې د شوروي ځواکونوسره جنګید لې اود ا فغا ن حکومت اود طا لبا نو استا زو سره مخا لفت درلود. یا ځینې یې د متحده ایالاتو متحد ین دي اوډیری نوریی بیا هم واشنګټن ته خد مت کوي.په ډاګه سره باید وویل شی چی هیڅ یوددی افغانی مجاهیدن کم ترکمه پرته دامریکی دمتحده ایالاتوله اجازی څخه نشو کولای چې دمسکو په غونډه کی ګډون وکړي نو داسی انګیرل کیږی چې واشنګټن ،مسکو ته په ځینو برخو کي دپام وړ اشا ری ورکړی وی لکه مسکو ته د طا لبا نو دسفر دلاری اوارول کوم چی مخکی له دی څخه ځلمی «خلیلزاد» افغان تبار امریکایی ، افغا نستا ن ته دملی پخلاینی دپا ره دامریکی ځا نګړی استا زی دمنطقی دهیوادونو دسفرپه لړ کی مسکو ته هم سفر وکړ اودروسی مقاماتو سره له نژدی ولیدل نو له دی څخه داسی را معلومیږی چی ممکن امریکا ددغوغلواودروغجن افغانی مجاهد ډلو ټپلو سفرمسکو ته ددواړو هیودونو (امریکا او روسیی) په توافق سره شوی وی اودهغه په بدل کی شاید چی دواړه هیوادونه په دی راضی شوی اوسی چی په اکراین کی شخړی کم کړل شی اودا ځکه چی دځلمی «خلیلزاد) اودروسیی د مقا ما تو سره دهغه دخبرو اترو جزییا ت درسنیو پواسطه سره نه دی خپور شوی .




ځلمی «خلیلزاد»

په مسکو کي دا فغا نستا ن د سولی دوروستی د خبرو اترو په نظر کی نیولو سره لازم نه بریښی چی ووایو اوهغه داچي روسیه دا مریکی د متحده ایالاتو په ښکا ره او اګاهانه ملاتړ سره دافغانستان سیاسیی ډګر ته را کښل شوی دي حا ل داچي مسکو په وروستیو کلونو کي با ر با ر په منظمه توګه سره په سیمه کی دامریکی د متحده ایالاتو

دنفوذ په وړاندې مبارزه او خپل هڅې او اند ته دوام ورکړي .

ځنې وختونه دلويو ځواکونو «ابرقد رتونو» تودخي يا ګرموالى داسې په ګوته کوي چې ددوى تر مينځ شحړه يواځې دوا کمنې اويو پر بل با ندى دلوړ غوښتنې مسله نه دى اما هغه څه چي دوى دا فغا نستا ن په مورد کې سره اختلا ف لرى هغه د سود يا د ګټې مسله دى چي با يد د مخد ره موادو دراکړې ورکړې اوهم دا فغا نستا ن د طبعى زيرمو ته د لاس رسى په اړه شخړى وکړى ، مونږ افغا نا ن له ډيرو جنګونو څخه سترې او پريشا نه شوى يو داچې مونږ نشو کولاى هغه لوى ګټې وتلو يا وسنجوو کوم چې ډ ير شيا ن دتولنيز رسنيو له خوا تر پوښښ لاندى نه نيول کيږى يا چې هغوى ته دا هميت وړ نه دى بيله خبره دى مثلاً د بيلګې په بڼه :هغه مقدار ليتيوم او د افغا نستا ن نور معد نى طبعى زيرمى کوم چي له ا فغا نستا ن څخه بهر ته قاچاق وړل کيږى ، دا نو هغه وخت دى چي دغه زور واکا ن د جګړې دريښتينى ا هد ا فوپرته په پام کې نيولو سره دخپل ستراتيژى او د پا ليسى بد لون اعلاموى.




دامريکې دمتحده ايالاتو دجيولوژى سروى (USGS) پواسطه سره دونزويلا داورينوکو په اولسوالى کې دتيلو دزيرمى اندازه

کله چې متحده ايالات په ښکا ره ډول د وينزويلا د تيلو د زيرمې د کنټرول ترلاسه کولولپا ره ډيره پا ملرنه اچوي، نواحتما ل يې دا دى چې د ا فغا نستا ن شتمن زيرمې او کا نونه چې تېل او ګا ز نلري دامريکې دپا ره لکه دونزويلا په پرتله يو مسا وي ارزښت ونلري .

ځينې فعا لين چې د متحده ايالاتو پر وينزويلا با ندي له بريد څخه دفاع کوي با يد چې په تيرو دوو لسيزو کې د متحده ايالاتو تيرې حملې له ياده ونه باسى .

دوى با يد د متحده ايالاتو بريدونه د افغانستان او عراق په څير د مرګ ژوبلې کچه وڅيري. د اروپايي اتحا د يې او نورچې د ولسمشر **نيکولاس مادورو** له منلو انکار کولې

*شي يا هغه نه منی او په وینزویلا کې د پوځي مداخلې ملاتړ کوی با يد چی په ډاګه سره وویل شی چی دوی د بشری حقونو څخه سرغړونه کوی .*

***------------------------------------ په درنا وی ( 14-02-2019)***